افغان ملي غورځنګ ۲۰۱۵/۱۱/ ۱۱

د افغان ملي غورځنګ اعلامیه

هره ورځ یو نوی وحشت او هره ورځ یوه نوي غمیزه!
د کندز، شینوارو، قیصار او نورو غمیزو وروسته، د وحشت استازو په زابل کي د اوو تنو بېګناه افغانانو غاړې د دې لپاره ورپرې کړې چې په ولس کي وېره خپره کړي، د نفاق اور ته لمن ووهي، د دښمنانو زړونه پر موږ یخ کړي او ولس دېته اړ کړي چې وحشت ته د اطاعت غاړه کښېږدي. افغان ملي غورځنګ د هېواد د هر ګوټ او هرې سیمې غم خپل غم او د ټول هېواد غم ګڼي او د جاغوري د خلکو پر وړاندې وروستی وحشت په کلکه غندي.
زموږ په اند افغانستان یو ځل بیا له یوه ډېر حساس پړاو څخه تېرېږي، ډېرې لویې دسیسې ورته سنجول شوې دي او ډېر ناولي لاسونه راغځېدلي دي. که چېرې پدې حساس پړاو کي چې د ملي وحدت!؟ حکومت هم خپله بشپړه بې کفایتي ثابته کړې ده، موږ هم له تدبیره کار وانخلو او د ملي یووالي په روحیې سره ټولو دسیسو ته یو موټی ځواب ورنه کړو، ښايي روان بحران دومره ژور شي چې بیا به یې د زیانونو جبران ناشونی وي.
اته دېرش کلني جګړې افغان ولس بیا هم هغسې ونه وېشلو، چې دښمن غوښتل او ښه خبره دا ده چې په وروستۍ یوه لسیزه کي افغان ولس د یو موټي کېدو خواته ډېر نږدې شوی دی. له بده مرغه په وروستیو څو میاشتو کي موږ ګورو چې بهرني دښمنان بیا هڅه کوي د افغان ولس تر منځ د نفاق له لارې خپلې دسیسې دلته پلي کړي. بده یې دا ده چې سره له ډېرو ترخو تجربو بیا هم یو شمېر افغانان د دښمنانو په لومه کي لوېږي او غواړي روانې غمیزې ته د ناپوهۍ له مخې او یا هم په لوی لاس قومي او مذهبي رنګ ورکړي. موږ د روانو ستونزو او پېښو پر وړاندې قومي غبرګون هم په کلکه غندو او پر افغان ولس غږ کوو، چې راځئ د دښمنانو دسیسې په ګډه شنډې کړو، د هر توکم او هرې سیمې ستونزه خپله ستونزه وګڼو او په ګډه یې د حل لپاره هڅې وکړو. زموږ په اند وحشت خپل او پردی نه پېژني او نه هم یوازې په یوه سیمه کي تم کېږي، بلکې د وبا په څېر خپرېږي. که چېرې همدا اوس د دې وبا د مخنیوي لپاره یوه خوله او یو موټي نه شو، سبا به ډېر ناوخته وي.
موږ پر ټولو سیاسي ډلو او مدني ټولنې غږ کوو، چې راځئ له روانې غمیزې څخه د وتلو لپاره د یوه ملي ډیالوګ له لارې د حل یوه معقوله افغاني لار ولټوو او په پلي کولو کي یې ګډ مسوولیت پر غاړه واخلو. افغان ملي غورځنګ نه یوازې پدې برخه کي خپل چمتووالی اعلانوي، بلکې هڅه کوي د ډیالوګ د پیل لپاره تر ټولو مخکې ګام واخلي.
د واحد او سرلوړي افغانستان په هیله

اعلامیهٔ افغان ملي غورځنګ

در پیوند با جنایت جاغوری

با دریغ و درد که هر روز شاهد وحشت جدید و سوگواری نو هستیم!
به تعقیب جنایت‌ها در قندز، شینوار، قیصار و دیگر نقاط کشور، اینک عمال وحشت گلوی هفت هموطن بیگناه مان را در زابل برای آن بریدند تا مردم را دچار هراس سازند، آتش نفاق را دامن زنند و مردم را مجبور به اطاعت از

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وحشت نمایند. افغان ملي غورځنگ، سوگ و مصیبت در هر گوشه کشور را سوگ خویشتن و سوگ همه ملت دانسته و وحشت اخیر در برابر مردم بی گناه جاغوری را شدیداً تقبیح می نماید.
به باور ما افغانستان از یک مرحلهٔ بسیار حساس و پر چالش حال عبور میکند، دسایس خطرناک علیه کشور ما چیده شده و دست های کثیف بسوی ما دراز گردیده است. در چنین وضعیت حساس که حکومت وحدت ملی نیز بی کفایتی تمام را به اثبات رسانیده، چنانچه ما نیز از تدبیر کار نگیریم و با روحیهٔ ملی و بطور یکپارچه پاسخ دسایس پنهان و آشکار دشمنان را ندهیم، شاید بحران جاری آنچنان ژرف گردد که دیگر زیانهای آن قابل جبران نباشد.
جنگ سی‌وهشت ساله در کشور، ملت واحد افغان را آنطوریکه دشمنان انتظار داشت نتوانست متفرق کند و خوشبختانه که طی دههٔ اخیر ملت ما بسوی وحدت دوباره هر چه بیشتر نزدیک شده است. با تأسف که در ماه های اخیر شماری از دشمنان خارجی ماتلاش میورزند تا از راه دامن زدن به تفرقه دسایس خویش را جامه عمل بپوشانند. تاسف بار تر این که باوجود تجارب تلخ گذشته باز هم تعدادی از هموطنان ما در دام دشمن میافتند و ناآگانه میخواهند بحران جاری را رنگ قومی و مذهبی بدهند. ما برخورد قومی و مذهبی در قبال چالش ها و حوادث اخیر را نیز نکوهش می کنیم و ملت افغان را فرامی خوانیم تا در خنثی کردن دسایس دشمنان بطور یکپارچه عمل نمایند و معضل هر گوشه کشور را از آن خود دانسته و در حل آن تلاش نمایند. به باور ما عمال وحشت خویش و بیگانه را نمیشناسد و نه هم وحشت در یک ساحهٔ مشخص محدود میماند بل مانند وبا به هرسو سرایت می کند. چنانچه همین حالا برای نابودی این وبا دست بکار نشویم و یک مشت و یکصدا با آن برخورد نکنیم فردا حتمن دیر خواهد بود.
ما از تمامی گروه های سیاسی و مدنی می خواهیم که از طریق یک دیالوگ ملی جهت خروج از بحران جاری یک راه حل معقول افغانی را جستجو نمایند و تحقق آن را مسؤلیت مشترک خویش بدانند. افغان ملي غورځنگ نه تنها در این راستا آماده گی خویش را اعلام می دارد بلکه تلاش می نماید برای آغاز چنین دیالوگی خود پیشگام شود.
به امید افغانستان واحد و سربلند!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ